محمد ظریف امین یار

۲۰۱۷/۰۷/۰۳

# د افغانستان په اړه د ترامپ تګلاره به څه وي؟

په ظاهری توګه د متحده ایالتو حضور په افغانستان کې د یوې ترهګریزې پیښې په غبرګون کې د یوې ناڅاپه پریکړې پایله ښکاري اما سیاسی منطق بیا دغه فرضیه ردوي او د توطیې تیوري باندې دلالت کوي. افغانستان چې د جګړې کټلو لپاره خورا سخت هیواد په توګه نړیوال شهرت لري حتی امریکا یې هم ناکامۍ سره مخامخ کړی ده. اوس خورا ډېر نړیوال سیاسي کارپوهان ، شنونکي او مبصرین اجماع لري چې د امریکا نظامي تګلاره په افغانستان کې ناکامه ده ځکه چې په افغانستان کې جګړه ورځ تربلې پراخه شوېده او د سولې، ثبات ، امنیت او هوساینې درک نشته. نه امریکې د خپلواکۍ دومداره عملیاتو (Operation Enduring Freedom)موخې او نه هم، بن د کانفرانس اهداف په قناعت بخشه توګه لاسته راوړل، بلکې د امریکې غلطو سیاسی پریکړو له وجه افغانستان د ۲۰۱۴ کال د ټول ټاکنو څخه وروسته عملاً یو لوی سیاسي بحران کې ښکیل شوی دئ چې د نجات لاره یې لاتراوسه هم ورکه ده. یادې موضوع افغانان، د سیمې او نړۍ قدرتونو په شمول آمریکاییان یې هم اندېښمن کړي دي. په افغانستان کې جګړه د ناټو او امریکایی سرتېرو له شتوالي سره د هرې ورځې په تېریدو سره زور اخلي او افغانان یې د خپل راتلونکې په اړه مایوسه او اندېښمن کړي دي. دغه وضعیت د هیچا لپاره د منلو وړ نه ده او ژر تر ژره باید پرې بنیادي بحثونه وشي ترڅو موږ د بحران څخه د وتلو منطقي لارې چارې پیدا کړو او افغانستان یوځل بیا ژور کړکېچ کې د ښکېلیدو څخه نجات ومومي.

## د ډونالد ترامپ کمپاینې هوکړې او عمل:

کله چې ترامپ د امریکې منتخب ولسمشر په توګه وټاکل شو داسې ښکاریده چې د امریکې سیاست به د افغانستان او سیمې په مقابل کې ژور او بنسټیز بدلون ومومي اما داسې ظاهراً ونشول او تر اوسه هم د امریکې تګلاره هماغه د پخوا په شان ده یواځې د نوي سرتیرو رالیږل او د نوی ډیپلوماتیکو اړیکو تګلارې په اړه هوکړه شوې ده چې هغه هم پراډاکس نه ډکې پریکړې دي. له بده مرغه د امریکې سیاست او تګلاره د افغانستان په اړه تراوسه هم ګونګه ده او په هیواد کې دامنیت، سولې او ثبات موضوع لا تراوسه هم یو لوی آرمان په توګه باقي پاتې ده. داچې د امریکې پټ مقاصد څه دي دغه موضوع تراوسه هم په بشپړ توګه معلومه نه ده ولې افغانان هره ورځ د تحمیلی او نیابتي جګړې قرباني کیږي چې هیڅکله هم د وینې او باشعوره ملت لپاره د زغم وړ نه ده. د جګړې هره خواکې له بده مرغه یواځې افغانان قرباني کیږي او دا د یو ملت لپاره لوي درد اوناکامي ده. ترامپ چې یو جمهوري خوښتونکئ سیاستوال دئ د هغه څخه د خلکو مخکې له مخکې تمه دا کیده چې د افغانستان جګړې کټلو لپاره به نظامي قواه ډیره کړي او حتی دا وویل کیده چې سولې ته هم لاره هواره کړي. یعنې خلکو داسې فکر کاوه چې ترامپ به د افغانستان موضوع یو طرفه کړي ولی په عمل کې داسې ښکاري چې د ترامپ اداره هم د افغانستان بحران حل کیدو لپاره ډېر څه نلري او بدبختانه ناچاره بریښي.

## آیا امریکا د افغانستان صادق متحد دئ؟

امریکا متاسفانه افغانستان سره تر دغه دمه صادقه متحد نه ده پاتې شوئ او تل یې په سیاسي میدان کې د افغانستان په اړه زیک زاګ حرکت کړئ. تراوسه امریکې افغانستان سره کړلې هوکړې په صحی توګه نه دي عملي کړي او افغانان په دغه موضوع کې قناعت او رضایت نلري. مثلاً نه افغانستان کې ډموکراسي تمثیله شوه، نه ښه حکومتوالي منځته راغله، نه فاسدین ، جګړه ماران او مافیایی ډلې محاکمه شوي دي، نه مخدره توکي کښت او قاچاق له منځه لاړ، نه د افغانستان ځواکونه پر مختللیو وسلو سمبال شول، نه سوله ، ثبات او امنیت راغئ، نه امنیتي تړون عملي شو او نه هم د هیواد اقتصاد خودکفایي طرف روان شو؛ بلکې هرڅه دلته یو مصنوعي رنګ لري چې محض د امریکې وتلو سره به خاورې شي. نو په دې اساس دا وویل به ناجایزه نه وي چې امریکا افغانستان سره یو صادق متحد نه دئ. د امریکې اشتباهاتو په اړه ما په انګلیسی ژبې یوه تفصیلي لیکنه کړی ده چې بیا به یې خپره کړم اما دا وویل به نادرست نه وي چې امریکا ګواکې تراوسه پورې افغانستان سره دو ګونۍ سیاست ته ادامه ورکړې ده چې دغه موضوع نه یواځې د امریکې پوځې شکست باندې مبدل شوئ بلکې افغانان یې هم د امریکې سیاست په اړه شک کې اچولي دي. په بل عبارت امریکې دلته خپل اعتماد او اعتبار له لاسه ورکړئ چې دغه موضوع باعث د دې شوې


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د افغانستان اکثریت وګړي د امریکي شتون ته رضایت ونلري. زه عموماً د امریکې حضور په اړه د ماسترۍ دورې محصلینو څخه پوښتم چې آیا هغوی د آمریکې حضور ته خوشحاله دي یا غواړي چې آمریکا په افغانستان کې حضور ولري، تاسو به حیران شئ چې هغه محصلین چې اکثریت یې امریکایي مؤسساتو کې په کار بوخت دي ، یا هم انجوګانو یا دولت کې مشغول دي او نسبتاً روڼ آنده هم دي بیاهم بیاهم یو یا دوه کسه په پنځوسو محصلینو کې د آمریکې حضور ته رایه ورکوي. تاسو دغسي سروې په هر ځای کې علمي کولئ شئ ترڅو د خلکو نظریه د آمریکې په اړه ترلاسه کړئ. دغه وضعیت د آمریکي سیاسي ماته په افغانستان کې په صحي توګه څرګنده وي.

## د ترامپ او اوباما د تګلارې پرتله:

ما داسې فکر کاوه چې د ډونالډ ټرامپ اداره به ژور بدلونونو ته لاره هوارې کړي ولی لکه څنګه چې ښکاري ټرامپ کابو د اوباما تګلاره پلي کولو ته چمتوالي لري. د ترامپ د تګلارې یواځې یو لوئ توپیر د نظامي سرتیریو وتلو نیټې او پر نظامي حل لارې تاکید کې ښکاري. ماته خو داسې ښکاري چې امریکې به ربتیا هم د خپلو سیاسي اشتباهاتو څخه درس اخیستلی وي. یا احتمال لري پلان به دا وي چې افغانستان همیشه بی ثباته او متکي پاتي شي. که مو په یاد وي اوباما غوښتل چې د امریکې ټول سرتیري د افغانستان څخه وباسي اما ترامپ دوامداره جګړې باندې تاکید کوي او جګړه ورته د افغانستان د مساله یواځنۍ منطقي حل ښکاري. مګر اصلی پوښتنه داده چې آیا جګړه ربتیا به د افغانستان پیچلي بحران څخه د وتلو منطقی لاره وي؟ زما په آند هماغسې چې د ۱۶ کالو جګړې ثابته کړه، د افغانستان بحران نظامی حل لاره نلري نو ځکه باید د سولې بهیر له لارې حل شي. بیا هم باید انتظار وباسو ترڅو د ترامپ د نوې تګلارې پایلې په عمل کې ملاحظه کړو او د افغانستان وضعیت بیا وارزول شي چې ښه شوئ یا که نور هم بحراني شوئ. د ترامپ او اوباما د تګلارې یو بل توپیر یې د ډیپلوماسۍ په برخه کې ده. ترامپ غواړي پاکستان باندې لازمه سیاسي فشار منځته راشي . همدغه یې علت ده چې کوښښ یې وکړو هند هم ځان سره د افغانستان قضیې کې راګډ کړي. ترامپ تمه لري چې په سیمې که به نسبي اجماع منځته راځي او دغه اجماع به د جګړې د ختمولو لپاره مثبت اغیزې ولري. اما په ټوله کې د ترامپ اداره پر نظامي حل لارې ډېره اتکا کوي او غواړي د دغه لارې څخه د افغانستان موضوع ممکن حل لارې پیدا کړي. د افغانستان په اړه د ترامپ او اوباما تګلارې په لاندې نکاتو کې په مختصر توګه پرتله کیدئ شی:

## ۱ ـ جیمز ماتیز(پینتاګون) ته صلاحیت ورکول:

ډونالډ ترامپ په عنوان د یو جمهوري غوښتونکئ په نظامي قوه او نظامي حل لارې خورا ډېر تاکید کوي. داسې ښکاري چې سولې ته ډېر خوشبینه نه ده او د سولې بهیر ورته د وخت ضیاع ښکاري. جیمز ماتیس د امریکې د دفاع وزیر څو ورځې وړاندې په یو پریس کانفرانس کې وویل چې «طالبان د افغانستان د بحران څخه وتلو کې اغیزمنه او مهمه برخه نشي لرلئ» زه هم باور لرم چې ترامپ به ډېر لومړیتوب نظامي حل لارې ته ورکړي. لیکن د ماتیس دا څرګندونې کاملاً ناقصه دي او ظاهراً د افغانستان د ملي ګټو خلاف هم ښکاري. ځکه سوله د افغانستان د ټول ملت مقدس آرمان دئ او دا باید ومنو چې سوله د جګړې له لارې نشي تامینیدلی. د ترامپ اداره په دې آند ده چې پینتاګون (Pentagon) ته که آزاد صلاحیت ورکړل شي نو جګړه به ژر وګټل شي ولی دغه موضوع یې نظر انداز کړې ده چې جګړه مخالفین هم زیږوي نو که ناکامه شوه بیا به خورا ډېر مخالفین زیږول شوي وي چې د امریکې شکست به په افغانستان کې حتمي کړي. ترامپ داسې فکر کاوه چې د افغانستان جګړه به آسانه وي اما کله چې د افغانستان وضعیت نور هم کړکیچن شو ترامپ فیصله وکړه چې د جګړې په اړه د استراتیژیو جوړنې او پلي کونې ټول صلاحیت باید پینتاګون ته ورکړل شي. هغه داسې عقیده لري چې که جیمز ماتیس چې په لیوني سپي مشهور دئ دغه جګړه مستقیماً رهبري کړي او د جګړې په هکله اکثره پریکړې د دفاع وزارت د چتر لاندې اجرا شي نو دا به د جګړې ګټلو لپاره ګټور تمام شي. همدغه یې علت وو چې آمریکا د افغانستان او پاکستان لپاره خپل ځانګړې استازې وظیفه د اداري تشکیلاتو څخه حذف کړه. اما زه متیقن یم چې دغه سیاست به د افغانانو څخه خورا لا ډېر قرباني واخلي. د ترامپ دا حرکت د هغه سخت دریځه سیاسي مفکورې دلالت کوي اما دا چې دغه سیاست په نتیجه ورکړي یا نه دا به وخت ځواب کړي.

## ۲ ـ د سرتیرو شمیر:

امریکا به حد اقل ۳۸۰۰ تازه نفسه سرتیري په افغانستان کې ځاي پر ځاي کړي. اوس په افغانستان کې وویل کیږي چې ۸۴۰۰ امریکایی سرتیري شتون لري. زه فکر کوم چې ترامپ به پر ناټو هم غږ وکړي چې د سرتیرو شمیر زیات کړي ترڅو امریکې سره یوځاي هڅه وشي چې د افغانستان جګړه پای ته ورسول شي. ناټو به افغانستان ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوځیان راولیږي او د جګړې حل لپاره به نوې استراتیژی چتر لاندې به لازم اقدامات پلې شي. زما په آند ۳۸۰۰ سرتیرو زیاتول به د جګړې ختم لپاره ډیر کټور ثابت نشي ځکه کله چې د امریکې په افغانستان کې ۱۳۰۰۰۰ سرتیرو سره جګړه ونشوه ګټلای نو دغه کابو ۲۰۰۰۰ سرتیري به داسې څه وکړي چې جګړه په افغانستان کې پای ته ورسیږي. زه فکر کووم لاره د حل سوله ده نه جګړه. جګړې په لور دوباره حرکت د افغانستان تباهي او نور ژور بحران ته تګ دئ. امریکا باید دغه موضوع باندې سر خلاص کړې که نه نو هژموني به یې په افغانستان کې لاهو شي.

## ۳ ـ د ملي یووالی حکومت برخلیک:

د باراک اوباما یوه لویه سیاسی اشتباه د ملی یوالی د حکومت تشکیل وو. اوباما ځکه د ملی یوالی حکومت ته زړه ښه کړو ځکه چې هغه مهال د امریکې ولسمشریز ټول ټاکنې جریان درلودې او اوباما نه غوښتل چې جمهوری خواهان د دغه ټول ټاکنې وګټې نو پدې اساس هیڅ ډول ریسک یې ونه منلو او

بدبختانه په لوئ لاس یې افغانستان بحران کې ورداخل کړ. زه فکر کوم د ترامپ محاسبه داده چې دوه سرئ حکومت هیڅکله نتیجه نه ورکوي ځکه چې امریکا یو با قدرت مرکزی حکومت او یو مشروع او ژمن متحد ته اړتیا لري؛ ترڅو دغه جګړه چې اوس مهال د آمریکې لپاره یو سردرد جوړ شوئ، یوطرفه کړي. پدې اساس ډیر ژر به د ملي یووالي حکومت برخلیک واضح شي. ډیر امکان لري چې ډاکتر صاحب عبدالله او ډاکتر صاحب غنی به د نوي حکومت تشکیل کې د یو سیاسي تړون چتر لاندې تنظیم شي.

## ۴ ـ د ګاونډیانو په هکله د امریکې نوې استراتیژي:

پرته لده چې اوس ټوله نړئ په ده حقیقت پوهیږي چې پاکستان د ترهګریزو ډلو لپاره مصونه ځالي لري بیاهم کله چې امریکا د پاکستان په مقابل کې قاطع دریځ نه غوره کوي واقعاً د توطیه تیوری باندې د خلکو عقاید نور هم مستحکم کوي. داسې ووېل کیږي چې امریکا نوې ستراتیژی باندې کار کوي او دغه استراتیژی به راتلونکي څو اونیو کې بشپړ او تایید شي. زه فکر کوم امریکا به هڅه وکړي چې په سیمې کې ممکنه نسبې اجماع منځته راشي نو د پاکستان په مقابل کې به الترناتیف (Alternative)متحدان لکه هند له ځان سره مل کړي. د هند سره د امریکا نږدې کیدل به د یو اړخه پاکستان باندې لازم سیاسي فشارونه واچوي ترڅو پاکستان د سولې په باب کې صادقانه هڅې وکړي او جګړه په افغانستان او سیمې که پای ته ورسیږي؛ له بل اړخه به پاکستان سیاسی استراتیژیک انحراف څخه راوګرځوي. مثلاً د چین، پاکستان او روسي مثلث ممکنه ایتلاف به امریکا د هند سره نږدې کیدلو باندې مات کړي. د پاکستان صدراعظم وروستنئ څرګندوني چې «ګواکې هغه د آمریکا د غلط سیاست څخه ناهیلی شوئ» همدغه موضوع تایید ګڼل کیږي. خو د امریکې نوی ستراتیژی به ډیر په دیپلوماسئ او مرستو باندې تاکید وکړي او جګړه به په دغه ستراتیژئ کې برخه نلري. یعنې امریکا به پر پاکستان نظامي فشار څخه ډډه وکړي. دغه موضوع هم دا څرګنده کوي چې امریکا به هیڅکله هم د افغانستان لپاره خپل زوړ متحد پاکستان باندې لازم فشار رانولي ځکه پاکستان داسې ډیر اسرار لري چې د امریکې نړیوال حیثیت باندې ژوری اغیزې درلودلې شي. آمریکا به تل پاکستان سره احتیاطي او محافظه کارانه سیاست غوره کړي ځکه چې پاکستان د ځان سره متحده ساتل د امریکې په سیمې که رول لپاره استراتژیک لومړیتوب لري. همدارنګ امریکا به چین وادار کړي ترڅو پاکستان باندې لازم فشار وارد کړي او اسلام آباد صادقانه هڅو ته مجبوره کړي. دغه ډول فشار به د افغانستان پر وضعیت مثبتې اغیزي ولري.

## ۵ ـ د حکومتی جوړښت (ساختار) په اړه:

امریکا به هڅه وکړي ترڅو دغه دوه سرئ حکومت یو سرئ کړی یا هم به د حکومت ساختار ته تغییر ورکړي. امریکا به د نوي ټول ټاکنو لپاره زمینه برابره کړي او په نوي ټول ټاکنو کې به د اوسني حکومت مشرانو ته د ګټلو چانس برابر کړل شي. په ډیر ګمان سره، ډاکتر غنی او ډاکتر عبدالله به یو واحد حکومت جوړ کړي. په دغه ایتلاف کې د حزب اسلامی او جمعیت مشخصه کړیو برخه هم شوني ښکاري. هڅه به وشي چې جګړه ماران ،فاسدین او مافیایی ډلي د حکومت څخه وشړل شي. په حکومت کې به نوي ځواني تکنوکراتیک څېرې معرفی شي او په تدریجی توګه به هیواد د جنګسالارانو ، مفسدینو او مافیایی ډلو څخه به وژغورل شي. د مجاهدینو بالخصوص د شمالي ټلوالي نور فصل پایٔ ته رسیدلئ نو پدې اساس به خورا هڅه وشي چه دغه ډلي د حکومت څخه وباسل شي ، انزوا کړل شي یا هم بدنامه او شخصیتونه یې سیاسی ترور سره مواجه شي. زه فکر کوم آمریکا به دغه تحلیل ته رسیدلئ وي چې د مجاهدینو شتون کې به واشنګټون هیڅکه به هم په افغانستان کې کامیابه نشي ځکه مجاهدین په تیرو ۱۶ کالو کې د هر هغه اصلاحي برنامې مخالفت کړي چې د دوي امتیازات او سیاسي قدرت پکې زیان مونډلئ. یعنې خلاصه دا چې مجاهدین تل د اصلاح ، رونتیا، امنیت، سولې ، ثبات او هوساینه په خلاف واقع شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## ۶ ـ د فساد او جنګسالارانو په اړه:

زما په آند آمريکا نور بايد دغه نقطې ته رسيدلې وي چې د فاسدو او جنګسالارانو په شتون کې، افغانستان به هيڅلکه هم د يو سالم او ښه حکومت څښتن نشي. پدې اساس امريکا به کوښښ وکړي چې دغه بدنامي څېرې د حکومت څخه ليرې کړي يا هم انزوا کړل شي. د جګړه مارانو او فاسدينو وخت نور پای ته رسيدلئ او امريکا بايد هرومرو د افغانستان ثبات او امنيت او سوکالي لپاره دغه ډلې سبوتاژ او نابوده کړي. که دغسې ونشي د افغانستان جګړه به پای ونلري او آمريکا به دلته سخت شکست سره مخامخ شي.

## ۷ ـ د ښه حکومتوالي په اړه:

که امريکا واقعاً غواړي چې افغانستان کې په عنوان د يو استراتيژيک متحد پاتې شي نو بايد ښه حکومتوالئ ته لاره هواره کړي. ترڅو چې ښه حکومتوالي منځته رانشي دا به نا شوني وي چې داخلي اجماع منځته راشي او د خلکو اعتماد پر حکومت بيا احيا شي. اوس بدبختانه موږ د د اعتماد نشتوالي (Confidence Crisis)په بحران باندې اخته يو او کله چې د خلکو اعتماد پر چارواکو او حکومت له منځه لاړشي بيا جګړه کټل او هيواد د کړکيچ څخه راويستل کافي مشکل شي او حتي په لنډ مهال کې ناشوني شي. نو پدې اساس زه فکر کوم آمريکا به د ښه حکومتوالي په برخه کې افغانستان حکومت سره دومداره مرسته وکړي او په واقعي توګه به دا ځل کوښښ وشي چې د دولت خدمات او د ښه حکومتوالي بنسټ پر ورسالاري او شفافيت او تخصص سره کيښودئ شي. د ملي يووالي حکومت کې نوي تغييرات او اصلاحات د دغه برنامي پيل ښکاري.

## ۸ ـ د اقتصاد او سياسی ثبات په اړه:

ترهغه وخته چې موږ په عنوان د يو لوئ ملت ونه توانيږو منظم سياسی ملی جريات تشکيل کړو موږ به هيڅکله سياسی ثبات ته ونه رسيږو. د افغانستان ښه راتلونکي لپاره حد اقل پنځه لوی سياسي احزاب ته اړتيا ليدل کيږي. يعنی حزب اسلامی، جمعيت اسلامی، طالبان، خلقيان او تکنوکراتان. ټول نور سياسی جريانونه بايد دغه پنځو عنوانونو لاندې راټول شي او يو سالم سياسی ميدان رامنځته کړي. د سولې پروسه او سولې ته رسيدل د سياسی ثبات لپاره اړينه ګڼل کيږي نو بايد صادقانه هڅې وشي چې طالبان او نور مخالفين د سولې بهير سره را ګډ شي او سياسی ميدان کې خپله سالمه برخه واخلي. د سولې په باب د پاکستان او د سيمې نورو هيوادونو همکاري ضروري ده اما د سولې بهير مشري بايد افغانان وکړي. د ملي يووالي مشران خصوصاً ډاکتر غنی بايد د سولې بهير ته لومړيتوب ورکړي او په دغه برخې کې لازم ګامونه واخلي او د هيڅ ډول قرباني څخه ډډه ونکړي. سوله بايد په هر قيمت لاسته راشي. دا هم مهم ګڼل کيږي چې موږ ښه حکومتوالي ايجاد کړو ترڅو نسبي سياسي ثبات ته لاس ومومو او بشپړ سياسی ثبات خواته روان شو. د اقتصاد څخه پرته هم سياسی ثبات امکان نلري نو بايد هڅه وشي د اقتصادي لارو چارو څخه هم سياسی ثبات منځته راشي. دا ځکه چې که په يوې ټولنې کې اقتصادي ثبات نه وي نو بيا ټولنيز ثبات له منځه ځي او ټولنيز ثبات کولای شي سياسي ثبات مات کړي. ډاکر صاحب غنی پدغه برخه کې خورا ښه نظريات لري بايد هغه پلي کړي. افغانستان د هغه ځاي څخه چې ښه جيو اقتصادي او جيو سياسی موقعيت لري او خورا شتمن زيرمې هم لري نو کولای شي چې په آسانئ سره اقتصادي خودکفايی ته ورسيږي. اما بايد امريکا په دغه مهمو ملي اجنداګانو کې افغان حکومت سره صادقانه ژمنتيا وښايي او لازمه همکارئ وکړي اما لکه تير ۱۶ کاله په څېر د دغو مهمو برنامو عملی کولو په باب بهاني وکړي. زه فکر کووم اوس امريکا هم بايد دغه نقطې ته رسيدلي وي چې افغانستان بايد يو خودکفا او هوسا هيواد شي ترڅو دوي هم د اقتصادي فشارونو څخه بالاخره خلاص شي.

## ۹ ـ ټولنيزه اتکا: اکثريت که اقليت:

د امريکي يوه لويه تيروتنه دا وه چې په اقليتونو باندې بې ساري او بی باکانه اتکا وکړه. زه فکر کووم دغه د امريکې تر ټولو لويه استراتيژيکه تيروتنه وه. لکه څنګه چې د نړئ تاريخ ګواه دئ هيڅکله هم اقليت نشي کولائ په يو هيواد کې ښه حکومتوالي، سياسی، اقتصادي او ټولنيز ثبات رامنځته کړي او هيواد د بحران څخه وژغوري. حتا په پرمختللي هيوادونو کې اقليت ته مطلق واک ورکول د تصور څخه ګڼل کيږي. اما په افغانستان دغه ۱۶ کاله امريکې مطلق واک اقليتونو ته تسليم کړئ وو. دغه تجربه لکه نورو هيوادونو کې ناکامه شوه په افغانستان کې هم يوه غلطه او ناکامه تجربه وه. اوس داسې ښکاري چې امريکا خپلې اشتباه څخه پند اخيستئ وي او غواړي چې پر اکثريت باندې اتکا پيل کړي. امريکا بايد ورسالاري ته اهميت ورکړي په دغه سياست کې هرچاته خپل حق لاسته راځي که ورسالاري باندې اتکا ونشي بيا بايد د نفوس پراساس مليتی تشکيل بايد په صحی توګه تامين شي. په دغه دواړه صورتونو کې په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اتوماتيک ډول به پر اکثريت اتکا منځته راشي. که امريکا په اکثريت باندې اتکا ونکړي دغه جګړه به سل په سلو کې وبايلي او په افغانستان کې به د دوي نړيواله هژموني هم فنا شي.

## ۱۰ ـ دولت – ملت جوړونه:

متاسفانه آمريکا د دولت – ملت جوړونې په برخې که په افغانستان کې ډير لږ کار کړئ. موږ د هرڅه نه ډير ملت جوړنې ته اړتيا لرو او دا کار هغه وخت کيږي چې موږ د دولت-ملت جوړونې صحي موډل تطبيق کړو. په افغانستان کې د دولت-ملت جوړونې نړيوال موډل پلې شو اما دغه اجندا باندې په صادقانه توګه کار او پانګونه ونشوه نو ځکه موږ نه ملت شوو او نه هم دولت جوړونې کې برياليي شوي يو. زه فکر کوم چې په افغانسان کې بايد ملت جوړونې تر لومړيتوب ورکول شي ځکه دولت جوړونه پرته د ملت جوړونې به ستونزمنه وي.د ترامپ اداره به هم د دولت-ملت جوړونې په اړه هماغه پخوانۍ تګلاره ته ادامه ورکړي. زه فکر نکوم دغه موضوع ته ډير لومړيتوب ورکړل شي ځکه امريکا داسې فکر کوي چې د دولت جوړونې په بهير کې به ملت هم جوړ شي اما دا چې دغه مفکوره به دلته نتيجه ورکړي که نه دابه وخت ځواب کړي. زه متيقن يم چې د دولت-ملت جوړنې نه پرته به د افغانستان نجات خورا مشکل کار وي.
خلاصه دا چې د ترامپ د اداري تګلاره او د اوباما تګلاري تر منځ هماغه دوه عناصرو کې اصلي توپير ليدل کيږي. ترامپ د نظامي پريکړو ډير صلاحيت جنرال ماتيس او اړوندو نهادونو ته ورکړ او په افغانستان کې دوامداري جګړه ته يې رضايت ښودلۍ او ډيپلوماسي ته يې هم نوئ رنګ ورکړئ اما اوباما غوښتل د افغانستان څخه ډير ژر ووځي او په سيمې کې د نرمې ډيپلوماسي څخه کار واخلي. که څه هم ترامپ په انتخاباتي کمپاينو کې پر افغانستان حمله يې د امريکې يوه لويه استراتيژيکه خطا او سهوه ګڼله اما اوس ښکاري چې د افغانستان جګړه ګټل ورته لومړيتوب پيدا کړئ وي. د اوباما اداري لويه اشتباه دا وه چې د سرتيرو د وتلو نيټه يې ټاکله، پر اقليتونو يې مطلقه اتکا وکړه او په سيمې کې يې ضعيفه ډيپلوماسي پرمخ بوتله. دا د ذکر وړ ده چې په اصل کې که اوباما او ترامپ يا هربل څوک چې رييس جمهوري شي امريکا خپل خانګړې سياسي سپين ګيرې او اړوند بنسټونه لري ترڅو د امريکا تګلاره مشخصه کړي.
همدغه راز کله چې اوباما د افغانستان څخه د سرتيرو د ويستلو نيټه اعلان کړه دغه موضوع طالبانو او نورو مخالفينو ته روحيه ورکړه او هغو جګړې ته يې نوره هم په پراخه کچه ادامه ورکړه. د پاکستان استخباراتی اداري هم کله چې د امريکې د وتلو خبر ترلاسه کړ نور يې هم کوښښ وکړ چې په افغانستان کې مخالفين او طالبانو ته مرستي ګړندۍ او ډيري کړي. همدغسه نور هيوادونو لکه ايران او روسيې هم د مخالفينو مالي او سياسي ملاتړ باندې لاس پورې کړ. په نظامي برخې که دغه د اوباما د اداري يوه لويه او نه بښوونکي تيروتنه وه. اما داسې ښکاري چې د ترامپ اداره به د سرتيرو د وتلو نيټه هيڅکله هم څرګنده نه کړي ځکه دا رښتيا هم د ولسمشر اوباما يوه لويه تيروتنه وه. د افغانستان د جګړې ګټل اوس د امريکې لپاره يوه حيثيتي او هژمونيکه موضوع باندې مبدل شوې ده او امريکا به په خپل بشپړ توان سره کوښښ وکړي ترڅو په افغانستان کې جګړه وګټل شي. اما افغانستان واقعاً يوه سخته جغرافيا ده او تراوسه داسې برېښي چې امريکا دلته ناکامه دئ. اما داهم امکان لري چې د امريکې اهداف د افغانستان سياسی ثبات نشتون سره تړلي وي. اما بياهم دا به وخت په تيريدو سره څرګنده شي.

## آيا د افغانستان په اړه د ترامپ تګلاره به لکه د باراک اوباما تګلارې په څېر، خطرناکه شي؟

د افغانستان وضعيت بحرانی ده . د امريکې دفاع وزير په تازه اظهاراتو کې وويلي دي چې « اوس مهال په افغانستان کې بري څرک نه ليدل کيږي او امريکا د جګړې د پای نيټه نشي ټاکلئ.» دغه څرګندونې دا تصديق کوي چې امريکا تر اوسه پورې د افغانستان جګړې کې ناکامه ده. لکه څنګه چې پوهيږئ د افغانستان جګړه د امريکې پر تاريخ کې تر ټولو نه لويه جګړه ده چې اوس ۱۶م کال ته داخله شوه. اوس به وليدل شي چې ترامپ څنګه کولای شي چې دغه جګړه وګټي او افغانستان کې سوله ، ثبات او هوسانيه تامين کړي. اما زما په آند که امريکا پر جګړې بې اندازه او بی باکانه تاکيد وکړي او ډيپلوماسي او د سولې بهير ته لومړيتوب ورنکړي نو يوځل بيا به په افغانستان کې ناکامه شي. زما په آند جګړه په افغانستان که عملاً شکست سره مخامخ شوې ده نو که نوي که د امريکې استراتيژي يواځې پر جګړې تاکيد وکړي نو دا هڅې به يو ځل بيا ضايعه وي.اما که پر ډيپلوماسي او د سولې پر بهير کار وشي کيدلای شي افغانستان وژغورل شي. د سپيني مانئ سياسي سپين ګيري بايد سره کيني او لازم هڅې وکړي ترڅو د افغانستان جګړې ته د نرم سياست او ديپلوماسۍ له لارې حل پيدا کړي. نو پدې اساس زه فکر کووم د ترامپ تګلاره که يواځې پر جګړې تاکيد او د ډيپلوماسي ميدان کې ناکامه شي زه ډاډ لرم چې بيا به هم ناکامۍ سره مخامخ شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولـئ